
# چرګه او هزارپا




Winny Asara

Magriet Brink

Darakhte Danesh

3

پښتو ps



چرګه او هزارپا دوه ملګري وو، خو دوی په خپلو کې سره تل سيالي کوله، يوه ورځ دوی پرېکړه وکړه، چې د فوټبال لوبه ترسره کړي تر څو وازمويي چې کوم يو يې ښه لوبه کوي.



کله چې د فوتبال لوبغالي ته ښکته شول، چرګې په چټکۍ سره توپ واهه، خو هزارپا له چرګې ډېر چټک و. له دې سره چرګه خفه شوه او له هزار پا سره یې ناوړه چلند وکړه.




د لوبې پر مهال دوی هڅه کوله چې یو پر بل ګول ووهي، لومړی د چرګې نوبت شو او یو ګول یې وواهه.



. وورسته د هزارپا نوبت شو او په برياليتوب سره يې پنځه ګوله ووهل.



هزا پا توپ په ورو ورو د ګول خواته ور وسته او بریالی لوبه یې ترسره کړه.




د هزارپا له دې عمل سره چرګې ته غوصه ورغله، منبوکه يې خلاصه کړه او هزار پا يې له ستوني تير کړ.



کله چې چرګه کور ته ورسېده، په لاره کې د هزارپا له مور سره مخ شوه، ورته يې وويل "تا زما بچی نه دی لیدلی" چرګې سر ښکته واچوه او په خیل مخه ولاړه. د هزارپا مور په اندېښنه شوه چې بچی پې څه شو.



شیبه وروسته د هزارپا مور نرۍ غږ واربېده، "مورې! مرسته راسره وکړه" مرسته وکړه د هزار پا مور شاوخوا وکتل ګوري، چې د چرګې له خېټې د هزار پا غږ راځي.



د هزاریا مور وویل، "زویه!!! خپل ځانګړی غږ وباسه". هزاریا همداسې وکړل، او د چرګې په کولمو درد راغئ.



چرګې وټوخيده، پرنجی یې وکړ او کانګي یې وکړې.



د چرګې ټوخیدل نور هم زیات شو، او له دې سره بې له خبټې
هزارپا راووت او له مور سره یې ګډ ونې ته پورته شو.



د وخت په تېرېدو، چرگه او هزارپا سره دښمنان شول.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## چرګه او هزاريا

Winny Asara
Magriet Brink
Darakhte Danesh

CC BY